**مطبوعاتي اعلامیه**



**د اسلامي احکامو بیا کتنه یوازې د وحې پر بنسټ، د اجتهاد له لارې کېږي**

**(ژباړه)**

د ترکیې ولسمشر اردوغان د ښځو په نړیواله ورځ، چې د کورنیو چارو وزارت او ټولنیزو خپرونو له خوا نماځل کېدله، داسې وویل: «څرنګه چې وینئ، په دې وروستیو کې یو شمېر کسانو په بېلابېلو بیانیو سره د ښځو په اړه داسې اجتهاد کړی چې زموږ په دین کې هېڅ بنسټ نه لري او پر هغوی نه پوهېږي، یا په دې زمانه کې ژوند نه کوي او یا دا چې په کومه بله زمانه او بله نړۍ کې ژوند کوي، ځکه هغوی نشي کولی اسلامي نړۍ عصري کړي. تاسو نه شئ کولی د هغو قوانینو پر بنسټ اوس ژوند وکړئ چې ۱۴ یا ۱۵ پیړۍ مخکې پلي کېدل او داسې نه شي کېدلی. د همدې لپاره د اسلام تطبیق د وخت او ځای په تغییر سره تغییر کوي او د اسلامي احکامو د بیا کتنې امکان هم شته.» (سرچینه: Agencies)

له دې ناوړه بیانیې وروسته، ځینو حلقو هڅه وکړه ترڅو یاده بیانیه داسې تعبیر کړي چې نوموړي د اجتهاد په اړه خبرې کولې او د اسلام د دین احکام د وخت او ځای په تغییر سره تغییر کوي. په دغه ځای کې باید یادونه وکړم چې د اسلام د دین احکام تر قیامته د اعتبار وړ دي، په داسې حال کې چې بشري قوانین، لکه څنګه چې په بیانیه کې یاد شول د سېکولرېزم پر پایو ولاړ دي او په هېڅ وجه اجتهاد نه دی. اردوغان د الله سبحانه و تعالی د دین پر وړاندې تخطي وکړه او دغه کار یې د منلو وړ نه دی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلاَ مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِم﴾**

[احزاب: 36]

*ژباړه: هېڅ يو مومن او مومنه دا حق نه لري چې د الله سبحانه و تعالى او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم د پرېکړې خلاف کومه پرېکړه په خپل زړه وکړي.*

يوازې د الله سبحانه وتعالى احکام دي چې په دې تغيير مننوکې نړی کې تغيير نه کوي. دا ناممکنه ده چې احکامو ته تغيير ورکړو، په داسې حال کې چې هغه الله سبحانه وتعالى له زمان او مکان څخه لوړ دی او د انسان فطرت هم چې هغه تعالى پيدا کړی دی د زمان او مکان په تغيير سره تغيير نه کوي، الله سبحانه وتعالى عالم دی او د انسان له فطرت څخه باخبره دی. د همدې لپاره، په دې باور لرو چې د اسلامي نظام د هر وخت او ځای لپاره يوازينی مناسب نظام دی. موږ بايد هېر نه کړو چې د هر څه تجديد او اشتقاق د هغه اصل نه ښيي.

نو د دين بيا کتنه د هغه له سرچينې يعنې وحی پرته نه شي کېدلی، له دې پرته به د درباري علماوو يو تحريف شوی عجيب او غريب تفسير وي. په اسلام کې بايد هر نوی نظر او قضاوت د قران، سنتو، اصحابو د کړو وړو او شرعي قياس پر بنسټ وي. که په پورتنی بيانيه کې موخه «اجتهاد» وي، دغه اجتهاد بايد د شرعي ادله و پر بنسټ وي او کار يې د شرعي احکامو د تفسير مجتهدين نويو واقعيتونو ته په کتو سره د جزيياتو له مدارکو څخه يې پايله (مناط الحکم) وي.

اسلام د يو نړيوال نظام په توګه په هر وخت او هر ځای کې د انسان ټولې ستونزې حل کولی شي. د دې لپاره چې د انسان حاجات او غريزې ۱۴ پيړی پخوا هم وې او اوس هم په هماغه څېر دي، انسان تغيير نه دی کړی او هېڅ کله به هم تغيير ونه کړي؛ شرعي احکام به هم چې د انسان له اعمالو سره تړلي لري، تغيير ونه کړي.

د الله سبحانه وتعالى احکام به د قيامت تر ورځې د اعتبار وړ وي، لکه «زنا» د هغه کس لپاره چې فکر کوي روا به شي، نه روا کېږي، «سود» به هم د (اقتصادي اړتيا) په غلطې پلمې سره روا نه شي. حلال به تر قيامته حلال او حرام به تر قيامته به حرام وي. مسلمانان بايد فعال وي او عکس العملي نه وي، د دې لپاره چې اسلام داسې نظام دی چې د فاسدو او منحطو ټولنو د رهبرۍ لپاره رالېږل شوی دی، نه دا چې د ټولنو په تغيير سره تغيير وکړي. مسلمانان بايد په خپلو دنيوي ګټو کې د الله سبحانه وتعالى رضا وغواړي، نه د پانګوالی نظام رضا.

﴿فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ﴾

[نساء: 65]

*ژباړه: نه، اې محمده صلى الله عليه وسلم! ستا په رب قسم چې دوی هېڅکله مومنان کېدلی نه شي، ترڅو چې په خپلمنځي معاملو کې تا فيصله کوونکی ونه مني.*

د حزب التحرير ولایه ترکیې مطبوعاتي دفتر

د صدور ګڼه: ۲۰۱۸/۰۰۳

۱۴۳۹هـ.ق، د جمادي الثاني ۲۱مه

۲۰۱۸م، د مارچ ۹مه